# د ادبي دورو ټاکلو لارې چارې

**Way of classifying Pashto literary periods**

رحیم الله ځیرک*

**Abstract :**

In this article you can find about; introduction to the literary periods, the contribution of written literature in literary periods, oral literature plays the role of a mother to written literature, oppositions about literary periods and a glance to its background in other languages, new theories about the naming of literary periods. How many literary periods are in pashto literature and what features separate them from one another and their characters of each literary period is described.

**Key words:** Pashto language, literary periods, oral & written literature.

**متن** : پښتو ادبي دورې د بېلابېلو لاملونو پر اساس يو له بله بېل شوې دي. په دغه بېلوالي کې سياسي، اقتصادي، ټولنيز پرمختګونه، علمي او ادبي مسافرتونه، د نورو ژبو تاثيرات او مطالعه او همدارنګه په لسګونو نورو لاملونو د نظم او نثر په ساختمان او معنوي جوړښت کې توپيرونه ليدل شوي او په همدې بنسټ يوه دوره له بلې بېله شوې ده. د نړۍ بېلابېلې ژبې بېلابېلې ادبي دورې لري، چې دا د يوې ژبې لپاره کومه ستونزه نه ده، بلکې پرمختګ او نوښت دی چې يوه دوره دايم پاتې نه شي، بلکې د يوې دورې پسې بله دوره پيدا شي.

**د پښتو ادبي دورو نومونه بايد کوم وي ؟**

**پښتو ادبي دورې څو دي؟**

د ادبي دورو ټاکلو موضوع کړکېچنه مساله ده، چې د دورو د ټاکلو لپاره د معاصرې(درېيمې) دورې ډېرو څېړونکيو، ليکوالو، عالمانو او مؤرخينو د خپل نظر اړوند خبرې کړې دي، چې په ټولنيز ډول د ځوانانو او په ځانګړي ډول د محصلانو ستونزه لاينحل پاتې شوې ده. خو د نړۍ د ډېرو ژبو دا حال دی. د ادبي دورو په ټاکنه کې فلکوريکو ادبياتو يادونه ډېر مهمه موضوع ده او د ولسي ادبياتو له مهم نقشه سترګې نه شو پټولای.

**فلکوريک ادبيات**: د هرې ژبې شفاهي ادبياتو تاريخ د تحريري ادبياتو څخه د مخه وي. څوک چې د ادبي دورو ټاکلو په اړه نظر ورکوي، نو د ولسي ادبياتو رغنده دنده بايد هېره نه کړي. پښتو ادبياتو کې لاس ته راغلي تحريري ادبياتو نه مخکې شفاهي ادبيات موجود وو. پښتو ژبې کې داسې لندۍ (ټپې) موجودې دي، چې د داخلي او خارجي شهارتونو له مخې دا ثابتولی شي، چې ډېر پخوانی تاريخ لري.

* PhD Scholar, University of Kabul, Afghanistan

" د اریایانو په وخت کې د سوما او هوما بوټي به د سپوږمۍ رڼا ته راټولېدل او خلکو به ورنه استفاده کوله او یا داسې نورې ټپې هم شته".(1)

د نړۍ د ادبیاتو د تاریخونو په مطالعه کې دا حقیقت هر وخت زموږ پاملرنه جلبوي، چې هغه ادبیات پیاوړي او د ټولنې سره بنسټیزه رابطه لري. په یونان کې د هومر(ایلیاد) او(اوديسه) په لاتین کې د ویرژیل(انيید)په سانسکریټ کې د (کالیداس) ډرامې او په فارسي کې د فردوسي شاهنامه د فلکوریکو ویناوو څخه لاس ته راغلې دي او هومر، ویرژیل، کالیداس او فردوسي دغه افسانې په خپل هنري کالب کې اچولې دي. په دې توګه ویلای شو، چې د تحریري ادبیاتو لپاره شفاهي ادبیات د مور حیثیت لري او هېڅوک نه شي کولای چې د شفاهي ادبیاتو نقش او اغېزې ته په کمه سترګه وګوري.

" د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره کې د لیکلي ادبیاتو د هر کالب او فورم منځپانګه چې کومه معنا لري،(مرثیه، ستاینه، وطن دوستي، حماسي شعرونه او داسې نور) د دې تحریري لاس ته راغلیو کالبونو څخه د مخه موږ داسې شفاهي ادبیات لرو، چې پورتنۍ ټولې موضوعګانې پکې ښکاره دي، نو داسې اټکل کولای شو، چې د تحریري ادبیاتو لیکونکیو او ویونکیو د فولکلوریکو ادبیاتو مطالعه درلوده او یا په ټولنې کې شفاهي ادبیات د خلکو او عوامو په خوله او زړونو کې ځای درلود. پښتو ادبیاتو لرغونې دوره کې لومړنۍ لاس ته راغلې مرثیه یا وېرنه د شیخ اسعد سوري(۴۲۵هـ ق)کال کې وه، خو داسې ټپې هم لرو، چې محتوا یې مرثیه ده، چې تاریخ یې د اسعد سوري د لاس ته راغلې رثایه قصیدې څخه ډېره پخوانۍ ده. په ځینو ادبیاتو کې دا عنعنه هر وخت پالل شوې ده، چې شفاهي ادبیات د ادب په تاریخ کې په ډېر ارزښت سره ځایوي. د (کندوپلا) او (ژیړو وښتانو ښاپېریو) نکلونه په انګریزي ژبو کې نه هېروي او د خلکو د اصیلو ادبیاتو څخه یې بولي. عربان د(یو زرو یوه شپه)کیسې د خپلو ادبیاتو شهکارونه بولي. په ډېرو مواردو کې، چې شفاهي ادبیات د ټولنې په تصویر کې مرسته کوي، حتی لیکلي(تحریري) ادبیات هغو ته رسېدلای نه شي".( 2)

د پورتنیو یادونو پر اساس باید په ادب تاریخونو کې د شفاهي او فلکوریکو ادبیاتو یادونې ته ځانګړې برخه ورکړل شي، چې محصلان او ټول عوام په دې پوه شي چې شفاهي ادبیات هم د تحریري ادبیاتو په ډول خاص ارزښت لري او د ادبي دورو ټاکل چې د تحریري ادبیاتو پیلېږي، په شفاهي ادبیاتو پوهېدل ورته حتمي دي.

**د ادبي دورو اختلاف:** د ادبي دورو د اختلاف مسایل د نړۍ په ډېرو ژبو کې موجود دي، چې د پښتو ژبې د ادبي دورو د ټاکلو تاریخي شالید هم اختلافي مسایل لري. په فارسي ژبې کې د ادبي دورو د

ټاکلو لار، طريقه او روش ډېر ډولونه لري چې يو څو يې دا دي:

- د ادبي دورو ټاکل د پاچاهانو او مشرانو په نظر کې نيولو سره.
- د ادبي دورو ټاکل دکرونولوژي او وخت پر بنسټ.
- د ادبي دورو ټاکل د ژانرونو، سبکونو او مکتبونو پر اساس.
- د ادبي دورو ټاکل د تاريخي، سياسي او اجتماعي وضعې په بدلون سره.
- د ادبي دورو ټاکل د يوې عامې تاريخي وضعې په بدلون سره.

د عربي ژبې دوره بندۍ کې هم د اختلاف موارد موجود دي او پښتو، فارسي او همدارنګه نورې سيمه ييزې ژبې ورنه متاثره دي. د ادب تاريخ ليکنې سرلاري او مؤسسين عربان دي او ادبي دورو په اړه داسې نظريات لري:

ـ عربې ژبې د جاهليت د زمانې شعر او ادب په دوو برخو ويشي او د دې دورې شاعران يې هم دوه تقسيمه کړي دي.

ـ ځينو بيا د جاهليت د زمانې شعر او ادب د اشخاصو د رتبې، مقام، وظيفه او په ټولنې کې د مقام په نظر کې نيولو سره تقسيم کړي دي.

ـ ځينو بيا د دې دورې شاعرانو فصاحت او بلاغت په نظر کې نيولي او په (۳) درېيو او(۸) اتو برخو يې تقسيم کړي دي.

ـ ځينو بيا د سبعة المعلقه په نظر کې نيولو سره دوی په اوو کسانو تقسيم کړي دي. سبعة المعلقه اووه پېچلې قصيدې وې، چې د عکاظ په بازار کې به قيمت ګذاري او کره کتنه پرې کېده، کومه قصيده چې به د وخت په نظر کې نيولو سره په معيار او تول پوره وه، د کعبې په ديوالونو اويزانيدې. د دې قصيدې خاوندان ځينو لس ښودلي دي او ځينو بيا اووه ښودلي دي، چې دا دي:امر القيس، زهير، نابغه، اعشی، لبيد ، طرفه او عمرو بن کلثوم دي.

ځينو بيا عربي شعر او ادب په لاندې ډول تقسيم کړی دی:

د جاهليت زمانه، د اسلام د اوايلو زمانه، د عباسيانو زمانه، د ترکانو زمانه او اوسنۍ زمانه.

د فارسي او عربي نه سربېره په تاريخ ادبيات جهان کې هم دا کوښښ شوی، چې ادبي دورې وټاکي.

په تاريخ ادبيات جهان کې (اندرس، تورلس، ليوي، بوته، کورش، جرمن او نورو)په( ۱۸-۱۹) مې ميلادي پېړۍ کې کار کړی دی. د دغو پورتنيو يادونو په رڼا کې موږ طبعا دې نتيجې ته رسېږو، چې د ادبي تاريخ د دورو تصنيف يو ټاکلی او د ټولو له خوا منل شوی معيار نه لري، د مثال په ډول د انګريزي ادب تاريخ ليکنو کې د معيارونو شمېر تقريباً په همدې موضوع کې د کتابونو په شمېر دی يا په بله ژبه څومره چې ليکوال دي هغومره يې معيارونه دي. په انګريزي ادبياتو کې يو معيار دا دی، چې هره دوره يا عصر د يو نامتو استازي، ليکوال او اديب په نامه يادېږي. لکه: د چاسر عصر، سپنسر

عصر، شکسپیر عصر. ځینې وخت ادبي دورې د پېړیو په نوم نومول شوي دي، لکه: د پنځلسمې پېړۍ ادبیات، اتلسمې پېړۍ ادبیات او داسې نور. ځینې وخت د مسلطو فلسفي نظریو او ادبي مکتبونو په نوم نوموي.لکه:کلاسیسیزم عصر، رومانتسیزم عصر او داسې نور. بل معیار د ادبي دورو ټاکلو لپاره دا دی، چې دورې د پاچاهانو یا د ملکو په نامه یادوي، لکه: الیزابت دوره، جاکوبین دوره، ویکتوریا دوره او داسې نور.ځینې وخت دورې د کرونولوژي پربنسټ نومول شوي دي.

"د ادبي دورو اختلاف په پښتو ژبې کې هم شته، خو د ادبي دورو د نوم په ټاکلو کې هم د احتیاط او دقت نه کار اخېستل شوی نه دی".(3)

**ادبي دورو نوم ټاکنه**:

"پښتو ژبې لیکوال، شاعرانو، عالمانو او څېړونکیو پښتو ادبي دورې د خپل نظر اړوند تقسیم کړې او هرې یوې ته یې بېلابېل نومونه ورکړي دي، چې په ډېرو ادب تاریخونو کې داسې راغلي دي: پښتو ژبې ادبي دورې د لرغونې دورې، منځنۍ دورې او معاصرې (اوسنۍ) دورې په نومونو یادېږي. یعنې ډېرو ادب تاریخونو او ادبي اثارو کې ورته پورته نومونه ټاکل شوې دي، خو زما په نظر ادبي دورو ته باید داسې نومونه ورکړل شي، چې دایم د منلو وړ وي. پورتنۍ ادبي دورې درې دي او یوه دوره (منځنۍ)یې په منځ کې واقع ده، نو ډېرو عالمانو او څېړونکیو ورته د منځنۍ دورې نوم غوره کړی، چې په منځ کې ده، که چېرې د (معاصرې) دورې وروسته بله دوره پیل شي او څلورمه یا د وخت په تېرېدلو پنځمه دوره پیدا شي، نو بیا خو پورتنۍ منځنۍ دوره په منځ کې نه پاتې کېږي، چې دې ته باید د دویمې دورې نوم ورکړل شي، یا وروستۍ دورې ته معاصره (اوسنۍ) دوره ویل شوې ده، که چېرې د دې نه وروسته بله دوره پیل شي هغې ته به کوم نوم ورکوو، دا چې نن په سبا او سبا په بل سبا په دې ډول کلونه تیرېږي، وخت په تیرېدو دی او زمان په خپل ځای ولاړ نه دی او تیرېږي، نو د معاصرې دورې نوم هم د تامل وړ دی او پورته ادبي دورو ته که چېرې لاندې نومونه ورکړل شي، ښه به وي، چې ډېرو کمو اثارو کې ورته ورکړل شوی دی.لکه:(لرغونې)لومړۍ دوره، دویمه او درېیمه دوره، دغه نومونه د ادبي دورو لپاره مناسب ښکاري، که چېرې د وخت په تیرېدو نورې ادبي دورې پیدا شي، د نوم د کېښودلو ستونزه به نه وي".(4)

**پښتو ادبي دورې** :

**لرغونې(لومړۍ) دوره**: لومړۍ دوره د امیر کروړ د ویاړنې( ۱۳۹هـ ق )کال څخه پیل او د بایزید روښان تر ظهور (۹۵۰هـق)کال پورې دوام کوي او د دې دورې ځرکونه تر(۱۰۰۰هـ ق)کال پورې تر سترګو کېږي، د دې دورې عمومي ځانګړنې چې په دویمې او درېیمې دورې کې نشته او یا کم دي، په لاندې ډول دي:

" ۱. لرغونې دورې شعرونو ته د (لرغونې دورې سندرې) نوم ورکړل شوی دی، چې دغو شعرونو ته نه د شرقي شاعرۍ نوم ورکولای شو او نه د فلکوریکو شعرونو، خو د ختیزې شاعرۍ او ولسي شاعرۍ ډولونه هم لري.

۲. د دې دورې شعرونه د فکرونو په لحاظ ساده دي. پېچلي هنري تخیلات په کې نشته. ژبه یې سوچه او د شعر وزنونه یې له وزن(اهنګ) سره عیار شوې دي.

۳. لرغونې دورې کې دوه شهکارې قصیدي لرو، چې په احتمالي ډول د قصیدې کالب د عربي یا فارسي ادبیاتو نه تقلید شوي دي. دغه قصیدې د فورم له پلوه او هم د شعریت او تخیل له پلوه د لرغونو سندرو سره توپیر لري او دغه دوې قصیدې تحمیدیه قصیدي دي، چې عربې ژبه کې داسې قصیدې رواج درلود.

٤. د لومړۍ دورې عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، ویاړنې، وېرنې، مینه، ښلتون او اخلاقي ښودنې دي، چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي صنایع چندانې نه لیدل کېږي.

۵. د لرغونې دورې په شعرونو کې یو ډول سپېڅلتوب او ساده والی څرګند دی. سوچه پښتو کلمې لري، چې ځینې کلمې او الفاظ یې تر دې مهاله هم په ځینو سیمو کې دود او ځینې یې ترک شوي دي.

۶. د لرغونې دورې شعرونه ملي وزن لري، یعنې د عربي او فارسي عروضو تر اغېز لاندې نه دي راغلي او یا کم راغلي دي.

۷. د فکر له پلوه دغه شعرونه زړو اریایي سندرو ته ورته دي او د ریګویدا د کتاب د اشعارو مفکوره پکې له ورایه ځلېږي، د بیټ نیکه مناجات د دې خبرې پوره ثبوت دی.

۸. په دې سبک کې پردۍ کلمې یا نشته او یا ښخې لږې دي او ژبه یې سوچه ده.

۹. په دې سبک کې شعرونه په یو خاص لحن او اواز سره ویل شوي دي او خاص اهنګونه لري".(5)

دویمه دوره: دغه دوره د بایزید روښان د پاڅون او ادبي هلو ځلو(۹۵۰هـ ق)کال نه پیلېږي.په دې ادبي دورې کې دوه پړاوونه او مرحلې موجودې دي، چې لومړی پړاو د(۹۵۰هـ ق)کال نه پیلېږي.بایزید په(۹۵۰هـ ق)کال ادبي هڅې پیلوي او د خوشحال د ادبي هڅو پوره دوام کوي، دا چې خوشحال خان(۱۰۲۲هـ ق)کال پیدا او دې په شل کلنۍ کې یې لومړنی شعر ویلی دی، چې( ۱۰٤٤هـ ق) کال سره برابرېږي. د دې دورې دویم پړاو ته کلاسیک پړاو ویلای شو، سره له دې چې په ډېرو ادب تاریخونو کې ټولې دورې ته کلاسیکه دوره وایي، خو د روښان ادبي مکتب ته د کلاسیکیت د معیار په نظر کې نیولو سره د کلاسیک نوم نه شو ورکولای.

دویمې دورې کلاسیک پړاو کې درې ادبي مکتبونه موجود دي.د خوشحال خان خټک ملي ادبي مکتب، د عبدالرحمن بابا عرفاني ادبي مکتب او د عبدالحمید مومند هندي ادبي مکتب، چې په سیاسي لحاظ خوشحال خان خټک او په هنري لحاظ حمید مومند او کاظم خان شیدا او داسې نور د

يادولو وړ دي.د دې ادبي دورې څلورو ادبي مکتبونو ځانګړنې په لومړۍ او درېيمې دورې کې نشته او يا کم دي.

"دويمه دوره له سياسي او ايډيالوجيکي مبارزې سره پيلېږي، خو دغه مبارزه د فيوډالي شرايطو له چوکاټ څخه د باندې نه وځي، روښان د يو مذهبي فرقې د لارښود په توګه په توره او قلم مبارزه کوي. د روښانيانو او خټکو ادبيات په عمده توګه تبليغ او تنوير ته متوجې شوي دي. روښان او خوشحال دواړو د پښتو د خپلواکۍ او ملي حاکميت لپاره توده او سره جګړه پر مخ بېولې ده. سره جګړه يعنې د قلم له لارې مبارزه يو فکري سيستم ته اړتيا لري. روښانيانو تر پردې لاندې د خلکو د سياسي شعور د لوړولو، په هغو کې د خودۍ او پرځان متکي کېدلو احساس د وېښولو لپاره اهنګ وال ادبي اثار ايجاد کړل او په دې توګه د کتبي ادبياتو پانګه لاس ته راغله. دويمې دورې ادبيات د لرغونې(لومړۍ) دورې سره د مضمون او شکل په لحاظ جوت توپير لري. په دې دوره کې د لرغونو سندرو وزنونه ترک شول.کلاسيک معنوي او لفظي صنايع په پښتو ادب کې باب شول. د مفکورې په لحاظ سيستماتيک اثار منځته راغلل. پېچلي تخيلات د پښتو ادب په بڼه راوتو کېدل.د دغه وخت پښتو ادبياتو د سيمې له ادبياتو رنګ واخيست او د نزول له حالته راووتل. د فکر ژورتيا، د خيال رنګينۍ او په فورمونو کې نوښت او پراختيا د دويمې دورې عمومي غوره ځانګړنې دي. دا څرګنده خبره ده، چې نه د روښانيانو تصوف او عرفان، نه د خوشحال افکار، نه د رحمان بابا ادبي بلاغت او نه د حميد مومند او کاظم خان شيدا نازکخيالي هېڅ يو دپخواني(لومړۍ) ادبي دورې په اشعارو کې نه ليدل کېږي.په عمومي ډول دويمې دورې ځانګړنې په لاندې ډول دي".(6)

" ۱. د تصوف او عرفان پېچلو مسايلو او اصطلاحاتو په پراخه پيمانه پښتو ادب ته لاره پيدا کړه يا په بله وينا عرفان د يو مسلک په ډول پښتو ادب ته راغی.

۲. په نثري ليکنو کې مسجع نثر رواج شو.

۳. اخلاقي او ديني مسايل په شعر او ادب کې زيات شول. حماسي او ملي روحيه په کې ډېره تته او کمزورې ښکاره شوه.

۴. د نظم او نثر نيمګړی طرز چې پخوا موجود وو، په دغه وخت کې اصلاح شو، نثر خوږوالی پيدا کړ او له نيمه منظوم حالت څخه راووت او د محاورې(خبرو اترو) شکل يې غوره کړ او نظم هم ساده والي ته مخه کړه.

۵. پښتو شعر د شکل په لحاظ هم په دې دوره کې پراختيا وموندله او يو شمېر ابتکارونه رامنځته شول.

۶. د مضمون له پلوه هم په دې دوره کې د ژوندانه ټول اړخونه راڅرګند شوي دي. په دې پړاو کې ډېر اثار ليکل شوي دي او د پښتو ادب نوې ښه رنګينه شوې ده. خلک يې د اجتماعي او د ژوند له نورو

مسايلو سره اشنا کړل.

۷. د دغه وخت په شعرونو کې طبيعي او ساده تشبه ګانې رواج او راغلې.

۸. د حماسي احساساتو بنسټ په خپله خوشحال خان کېښود او پيروانو يې بيا پسې تعقيب کړ.

۹. انتقاد او هجوه په دغه وخت کې ډېره اړولې را اړول شوې ده او د مغلو د زور زياتي په هکله دغه موضوع ډېره او په ډاګه څرګنده شوې ده.

۱۰. د ادبي ارزښت له پلوه د دې پړاو سبک تر ټولو جامع او ښه دی. په دې معنا چې هم يې د معنا خوا او هم يې ادبي او شعري اړخ پوخ دی.

۱۱. د دې پړاو سبک په تخيل کې هم ډېر پياوړ دی، ډېر لوړ او له نزاکته ډکه شاعرانه تخيلات پکې شته، په خپله خوشحال خان ډېر نوي نوي مضامين په تخيل کې راوړي دي او خپل سبک يې د لوړ او ښه نازک تخيل په ګانه بشپړ، سنبال او ښکلي کړی دی.

۱۲. په شعر کې له استثنايي شعرونو پرته جادويي اغېزې زياتې دي.

۱۳. د ده په شعر کې د زياتو معنوي ارزښتونو انعکاس د خلکو په روح د هنري تاثير له کبله عام مقبوليت تر لاسه کړی دی.

۱۴. شعر يې نه يوازې په شکلي لحاظ منظم دی، بلکې يو ډول معنوي نظم هم لري. په دې معنا چې د زياترو شعرونو د بيتونو دواړه مسرې يې سره يو ډول مقناطيسي فکري پيوند هم لري.

۱۵. فکري نوښت او ابتکار د ده په اشعارو کې محسوس دی.

۱۶. د ده اشعار د تمثيل، حيرت، حکمت، فلسفي او متلونو د خصلت د لرلو له کبله ډېر مينه وال لري.

۱۷. په شعر کې يې له تصوف او عرفان پرته نور افکار هم ځلېږي.

۱۸. د ده د شاعرۍ روزنيز او اخلاقي تلقين ډېر قوي دی.

۱۹. د رحمان بابا ډېر شعرونه ساده او روان دي؛ خو ځينې يې بيا په عين ساده ګۍ کې پېچلي او ګران دي.

۲۰. د رحمان بابا په شعرونو کې د حقيقي او مجازي مينې بريد ډېر نازک او نری دی.

۲۱. د حميد مومند په شعر کې د هغه ستره پياوړې شاعرانه وړتيا او اوچت علمي او فرهنګي قابليت له ورايه څرګندېږي، ځکه خو ورته د وخت اديبانو او شاعرانو (موشګاف) نوم ورکړی دی، چې اصلي معنايې ويښته سوری کوونکی او لازمي معنا يې ځيرک، تيزبين، بارکبين او کنجکاو دی.

۲۲.د هر نوي فکر ماخذ او مرجع د ده ټولنه او محيط دی او بيا په تېره هندي محيط او هندي حسن، له هرڅه څخه يې ډېر متاثره شوی، هغه يې په خپل کلام کې ځای کړی دی.

۲۳. د هر نوي فکر خيال او الهام د تصوير، تمثيل او انځور لپاره يې مناسب لغات او ترکيبونه کارولي دي.

۲۴.مينه او ښکلا او د دغو پديدو پر محور راڅرګندېدونکي مفهومونه يې د شعر دايمي موضوع ده،

چې په مختلفو شعري فورمونو او په ځانګړي ډول په (غزل) کې ځلولي دي.
۲۵. د شعري جوړښت د تخنیکي اړتیا له کبله یې د ناپښتو اشنا ژبو لغاتونه او لفظونه هم په شعر کې لېدل کېږي.
۲۶. په عشقي، غنايي او فکري منځپانګې سربېره یې نور ګڼ شمېر فکرونه او ویناوې لکه ښووني، تصوفي او عرفاني، حماسي، سیاسي او ټولنیز مضمونونه یې هم په خورا لوړ هنري جوهر او جادویي اغېز سره په خپل شعر کې راوړي دي، خو یو وار بیا هم باید وویل شي چې مینه او ښکلا یې د شعر د ملا تېر ګڼل کېږي".(7)

**درېیمه دوره**: د درېیمې دورې د پیدا ینښت ځرکونه په افغانستان او پښتونخوا کې یو وخت پیل شوی، خو انکشاف یې یو شان نه دی. په افغانستان کې د پښتو ادب درېیمه دوره څو پړاوونه لري، چې لومړی پړاو یې پر ۱۹۱۱میلادي کال د سراج الاخبار افغانیه په خپرېدو سره پیلېږي، په دغه وخت کې د درېیمې دورې د ادب لپاره عیني او ذهني شرایطو برابر شوي وو. د درېیمې دورې اشعار د محتوا او قالب په لحاظ د لومړي او دویمې دورې سره توپېر لري.د درېیمې دورې نامتو استازي مولوي صالح محمد کندهاری، غلام محی الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني، عبدالهادي داوي او نور دي. په پښتونخوا کې د درېیمې دورې مخکښان او سرلاري فضل محمود مخفي، راحت زاخیلي، خلیق، محمد اکبر خادم، اکبر او نور دي. درېیمه دوره چې د ۱۹۱۱ میلادي او ۱۲۴۸ هـ ق پیل او تر ننه پورې دوام کوي او هغه ځانګړنې چې د لومړۍ او دویمې دورې سره د دریمې دورې فرق کوي، په لاندې ډول دي:

۱. د ازاد شعر او ازاد نظم پیدا ینښت، چې په لومړۍ او دویمې دورې کې وجود نه درلود.
۲. سپین شعر او هایکو منځ ته راتګ، چې لومړیو دوو دورو کې یې هېڅ یو مثال نه لرو.
۳. ناول، لنډه کیسه، رومان او ټول نثري هنري ژانرونو پیدا ینښت د دې دورې لاسته راوړنې دي.
۴. د نړۍ د ډېرو ژبو نه ژباړې وشوې، چې په لومړۍ او دویمې دورو کې هم ژباړې لرو، خو په درېیمې دورې کې د کمیت او کیفیت په لحاظ ډېر کار وشو. او داسې نورې ډېرې ځانګړنې هم لري".(8)

## حوالې

(1) ختک، ډاکټرراج ولي شاه، د پښتو ادبي تحريکونه، يونورسټي بوک ايجنسي ، پېښور، ۱۹۸۹ ل کال،مخ ۵
(2) کانديد اکاډمېسين عطايي، زموږ د ژبو په ادبي تاريخ کې شفاهي ادبيات څومره ونډه لري، د ادبي تاريخ ميتودولوژي، علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۷ل کال،مخ ۶۶
(3) هاشمي، سيداصغر ، د ادبي دورو ټاکنه، ۱۳۹۳ ل کال،مخ ۷، ۸
(4) هاشمي، سيداصغر ،رنګونه مشالونه، ميهن خپرندويه ټولنه، پيښور،مخ ۳۴
(5) د ادبي دورو ټاکنه،مخ ۱۶، ۱۷
(6) ستارزاده، عبدالنبي، دوره بندي ادبيات از نګاه روش شناسي، د ادبي تاريخ ميتودولوژي، علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۷ل کال،مخ ۷۸
(7) هاشمي، سيداصغر ، د ادبي دورو ټاکنه، ۱۳۹۳ ل کال،مخ ۱۸،۲۱
(8) همدغه اثر ،مخ ۲۲